# د میا سید رسول رسا د ناولونو

## تنقیدي او تحلیلي جائزه

## A Critical and Analytical Review of Mian Sayyed Rasool Rasa's Novels

Dr Sayed Zafrullah Bakhshali*
Dr Noor-ul- Basar Aman**

***Abstract***

Novel started in Pashto literature in the late nineteenth century. In this period we see novels translated into Pashto from Urdu. Besides translation, the Pashto novel started in twentieth century. One of the prominent and well-known novelist of the twentieth century is Mian Syed Rasool Rasa. He has written five novels. These are: Shamai, Mamunai, Mekhana, Mafrur, Khudkashi. Rasa spent a few years in Afghanistan and that is why his Mekhana novel reflects the culture and history of Afghanistan. similarly his Mamunai novel describes the culture and background of Iran. his other novels has also encompassed many themes.

In this papers all of the novels of Mian Syed Rasool Rasa have been critically analysed.

**Key Words:** translation, novelist, culture,

میا سید رسول رسا چې د پښتو یو عالم،فاضل،ادیب،شاعر او زیرک انسان وۀ د میا محمد سعید کره د ابک خېل میا ګانو په کورنۍ کښې د ضلع نوښار په مشهور کلي بدرښو کښې پېدا شوے وۀ[۱].

رسا صېب یو باشعوره او تعلیم یافته شخصیت وۀ،په انتظامي لحاظ سره په ډېرو اهمو چوکو پاتې شوے وو او دغه ذمه وارۍ یې ډېرې په ښۀ طریقه سر ته رسولې وې،د دنیا په ډېرو ملکونو کښې ګرځېدلے وۀ او د هر قوم د کلتور یې ډېره ژوره مطالعه او مشاهده کړې وه. دغه ټولې تجربې د ښۀ په لیکونو کښې عموما او په ناولونو کښې خصوصا په نظر راځي.

* Assistant Professor Pashto Department AWKU Mardan
** Assistant Professor Pashto Department Malakand University dr.aman@uom.edu.pk

د ناول معنا نوې او عجيبه ده، خو په ادبي اصطلاح کښې ناول د داستان هغه ترقيافته شکل دے چې د ما فوق الفطرت واقعياتو په ځائے په کښې د ژوند حقيقي پېښو ته زياته پام لرنه شوے وي[۲].

په پښتو کښې د طبع زاد ناول شروع مرحوم راحت زاخېلي کړې ده. د راحت زاخېلي نه پس يعنې د ۱۹۱۲ء نه تر ۱۹۲۳ء پورې تقريباً يو پنځوس کاله کښې د ګوتو په شمار يو څو اديبانو د پښتو ناول په مېدان کښې طبع آزمائي اوکړه چې ښکاره نومونه په کښې دا دي. نور محمد تره کے (بې تربيته زوې)، صاحبزاده محمد ادريس (پېغله)، غلام غوث خېبري (د اور لمبې)، اشرف دراني (زړکې سترګې)، امير حمزه خان شينواري (نوې چپې)، رشيد علي دهقان (د سرو تعويز)، محمد ابراهيم شبنم (خوابښې اينګور)، ماتو خان سلطان محمد خان (چاودې ښيښه) او روغ لېوني سيد تکريم الحق کاکاخېل د (چرسي) په نوم ناولونه وليکل.

د ناول د کاروان په دې سفر کښې په ۱۹۲۳ء کښې د ميا سېد رسول رسا په شان جهانديده او ادب پوهه او د جديد علومو په کالو ښائسته شخصيت چې د ادب د نورو اصنافو نه پس د يو "ناول نګار" په حېث هم ځان په خلقو وپېژندلو او پينځه ناولونه يې تخليق کړل چې په پښتو ادب کښې به د رسا صېب نوم تل تر تله لکه د ځلنده ستورې روښانه ساتي[۳].

ښاغلي ناول نګار د ناول د غاړې په هار کښې د "مفرور"، "شمې"، "مامونې"، "خود کشي" او"مېخانه" په نوم د پينځو ملغلرو اضافه وکړه او خپلو مشاهداتو له ئې د ناول هغه رنګ ورکړو چې د پښتونولې رنګونه ئې په کښې لکه د بوډۍ د ټال د اسمان په لمن ښکاره کړل.

> "ښاغلي رسا په خپلو ناولونو کښې د پښتني چاپېرچل او کردارونو دائره زمونږ د شډل قبائيلي غرئيز ماحول نه تر لاهور او کراچۍ او د پاکستان نه واخله تر افغانستان او ايرانه پورې خوره کړې ده. او په دې عمل کښې هغه د ساهو او بشيړې تجربې، مشاهدې او مطالعې ثبوت ښودلے دے. د موضوع، پلاټ، کردارونو او چاپېرچل په خپلو کښې کوم منطقي او فني جوړښت چې په دې ناولونو کښې ليدے شي، هغه زمونږ د راتلونکو ناول ليکونکو د پاره د رڼا د منارې کار کوي[۴]."

**مفرور:** د رسا وړومبے ناول د "مفرور" په نوم دے چې په اپريل ۱۹۲۳ء کښې ئې په درې بابونو او ۱۷۴ مخونو مشتمل چاپ کړې دے. د الفاظو د کمي او د قيصې د لنډوالي په وجه دا ناول ،

" د ناولټ په زمره کښې هم راتلے شي، دا ناول د هغو مفرورانو په ژوند ليکلے شوے دے چې د معاشرتي خرابو له وجې د قتلونو او نورو مختلفو جرمونو په پاداش کښې جېل ته لاړ شي او يا د مفرورانو ژوند تېروي[۵]."

د مفرور اصطلاح د پښتني معاشرې په لمن يو داسې تور داغ دے چې خلق ئې د نوم نه يرېږي،د دغې مفرور د ژوند او کردار عکاسي په دې ناول کښې د "ګلابۍ" او "عمري" په شکل کښې شوې ده. د ناول ټول نچوړ د ترون په دې الفاظو کښې پروت دے.

> " د هغه بې ګناه مقتولانو شهيدانو په نوم چې د قصابانو قاتلانو د لاسه هر کال په سؤنو ارماني قبرستان ته ځي او د هغوي قاتلان د قانون نه د بچ کېدو د پاره مفروران شي[۶]."

رسا صېب په خپلو ناولونو کښې زياته توجو کردار نګارۍ له ورکړې ده چې په دې وجه ترې اکثر د ناول په پلاټ او نورو فني خوبو هم اثر پرېوتے دے. خو د رسا صېب د ناولونو ټول کردارونه خپل منطقي انجام ته رسي کوم چې د ناول نګار د نفسياتو تقاضه وي.

> " د صاحبزاده محمد ادريس د "پېغلې" نه پس چې په پښتو ناول کښې چا د کردار نګارۍ خيال ساتلے دے هغه ميا سېد رسول رسا دے. ښاغلے رسا لکه د ستائيلي مرحوم صاحبزاده صېب په شان د ختيز او لوئيديز ادب بشپړه مطالعه لري او د هغۀ په ناولونو کښې په کردار نګارۍ باندې زياته توجو ورکړې شوې ده[۷]."

په "مفرور" کښې د هېروئن "ګلابۍ" او هېرو "عمري" د کردارونو نه د ناول ټوله قيصه چاپېره چورلي رسا صېب د "ګلابۍ" کردار د "عمري" نه هم ډېر تېزکړے دے.

> " ګلابۍ د ښځينه کېدو باوجود په جسماني، نفسياتي او فطري لحاظ د نارينه عمري نه طاقتوره او تکړه ښائي، او بيا عمرے چې د ګلابۍ په اشاره څۀ کوي هغه د ماحول واقعياتو او فطري تقاضو سره سم نۀ وي څۀ ته چې د فېکشن په اصطلاح کښې د پوئېټک جسټس (Poetic Justice) خامي وائي[۸]."

دا خبره په خپل ځاے خو په " فن (Art) کښې د مبالغې نه بغېر خوند رنګ نۀ شي پېدا کېدے[۹]." خو رسا صېب دلته په مبالغه مجبوره شوے دے - په "مفرور" کښې رسا صېب منظر نګاري هم د کمال کړې ده کومه چې د ناول يو ضروري جز ګڼلې شي.

" څوارلسمې سپوږمۍ د شپې نه ورځ جوړه کړې وه. د سپوږمۍ په یخه یخه رڼا کښې د چار چاپېره غرونو ننداره د کتو وه. عجیبه، خوندناک او روماني منظر وو. مزېداره هوا چلېده او مونږ په مزه مزه مزل کولو [۱۰]."

**شمۍ:** د رسا صېب دوېم ناول د "شمۍ" په نوم دے چې نهه بابه او ۲۲۸ صفحې لري. د دې ناول مرکزي کردار "شمۍ" هم زمونږ د چاپېرچل هغه مرض دے چې د معاشرې د ناکړدو نه مجبورو زنانۀ ته لګي او بیا دغه مجبوره خلق په ډېر څۀ کولو "مجبوره" شي. د دې ناول د ترون د الفاظو نه هم د ناول مرکزي خیال اخذ کېږي.

" د هغې بدقسمته جینکو په نوم چې د معاشرې د خونړي نظام د لاسه دوي د ګناه د ژوند په تېرولو مجبوره دي [۱۱]."

دا قسمه خرابي د دنیا په نورو ملکونو کښې هم شته خو په مشرقي معاشره کښې د دې خرابۍ ښکار "انسانانو" ته ډېر په کرکه او نفرت کتلے شي، خو تر څو چې دغې متاثره "انسانانو" پس منظر رالټولے شوے دے نو اکثر د ډېرو مجبورو په وجه تر دغه ځائے رسېدلي دي. د شمۍ د کردار مشابهت ډاکټر اعظم د اردو د یو ناول "امراؤ جان ادا" سره داسې کړې دے.

" د شمۍ کردار د اردو د کلاسیکي ناول امراؤ جان ادا د مرکزي کردار سره ډېر مشابهت لري. د مرزا هادي حسن رسوا امراؤ جان ادا په کردار کښې هم دغه قسم مجبورو محصور معصومیت ځلېږي کوم چې د شمۍ په کردار کښې هم دے [۱۲]."

دغه قسم کردارونه په عمومي توګه په ټول مشرق کښې په نظر راځي چې په خصوصي توګه د مسلمان او پښتون قام د پاره سوالیه نخښه ده؟

**مامونۍ:** د رسا صېب درېم ناول "مامونۍ" دے. چې درې بابونه او ۲۴۸مخونه لري، په دې ناول کښې رسا صېب د هغه پښتنې جینۍ نقشه راښکلې ده چې د خپل ماحول نه اوځي نو خپل اقدار او روایات شاته اوغورزوي او د غېرو په تهذیب کښې ځان رنګ کړي دغه مثال د "مامونۍ" هم دے. چې د پښتون ولۍ د "حیا" اهم توکے ئې غورځولے دے او د شرابو، کبابو محفلونو او کلبونو ته رسېدلې ده.

" مامونۍ په قام خټه یو افغانۍ پښتنه پېغله وي. پلار ئې د قالینونو یو اوچت بېوپاري وي او د ایران نه بهر په لویو لویو ښارونو کښې د هغۀ کاروبار خور وي.د ناول هېرو ګل رحمٰن د تهران د پاکستاني سفارتخانې یو ځلمې

افسر وي چې نوې نوې ئې ایران ته بدلي شوې وي. د مامونۍ سره د هغهٔ اولني لیدهٔ کاتهٔ د شیران د ہوٹلو نه په شاندار هوټل در بند کښې کیږي[۱۳]."

د دې ناول دواړه لوے کردارونه اګر چې پېدائشي طور د یوې خاورې سره تعلق لري خو مامونۍ د خپلې خاورې اقدارو له لته ورکړې ده او ګل رحمٰن د خپلې پښې پښتو په وجه د مامونۍ دغې حرکتونو ته په ښهٔ سترګه نهٔ ګوري چې هر ځائے کښې د ګل رحمٰن په رومان کښې خنډونه جوړیږي.

" دې ناول کښې کهٔ څهٔ پښتو ښکاري نو هغه دا چې د پښتو ژبې د خوروني او خپلولو تائید په کښې شوے دے. نور ماحول، واقعیات، منظر کشي او باقي لوازمات ئې ټول تهراني دي. چې د ناول قدر و قیمت ئې ډېر کم کړے دے. ځکه چې ناول نګار تر څو د خپلې معاشرې، خپلو مسئلو ترجماني اونهٔ کړي تر هغې هغه کامیاب ناول نهٔ شي لیکلے[۱۴]."

رسا صېب چونکه د خپلو سرکاري ذمه وارو ادا کولو په لړ کښې ډېر وخت په بهر ملکونو او خصوصاً په ایران کښې تېر کړے دے نو د هغې معاشرې مشاهده به ئې ډېره د لنډې نه کړې وي. اګر چې د دې ناول ماحول خو خپل نهٔ دے خو په پردي ماحول کښې ئې د خپلو کردارونو خامۍ او خوبۍ مونږ ته په ګوته کړې دي. چې د رسا صېب د ناول نګارۍ په ژور نظر دلالت کوي.

**خود کشي:** د رسا صېب څلورم ناول د "خودکشي" په بوږنونکي نوم دے چې په ستمبر ۱۹۷۳کښې د چاپ تر مرحلو تېر شوے دے. د دې ناول په مخپاڼه (Title page) یوه خوندوره ټپه لیکلې شوې ده چې د هیرو د زړهٔ آخري آواز دے.

پرېږده چې خړ سېلاب مې یوسي
په لامبوزن اشنا به ډېره نازېدمه

د دې ناول ټول کړهٔ وړهٔ هم روماني دي. حسن پرست سرفراز چې د میرو په کلیواله اده مئین شي او د عشق داستان یې شروع شي[۱۵].

د رسا صېب په دې ناول کښې درې کردارونه سرفراز، میرو او صفیه د مینې په دریاب کښې لامبوزن دي چې د میرو نه په دغه دریاب کښې سرفراز ورک شي او د دغې دریاب د ارماني چپو ښکار شي. او د مینې په دغه دریاب کښې د وصال په طمع اوچې شونډې د دنیا نه لاړه شي.

" د رسا صېب د نورو ناولو د "شمې" او "مفرور" د هېروئن په شان د ميرو کردار هم د تباهۍ د انجام سره مخ شي. خو وړومبي دواړه کردارونه (شمې او ګلابۍ) د خارجي عواملو د لاسه دغې انجام ته اورسي او ميرو د خپلو ذاتي کېفياتو سره په جنګ کښې توره ډال اوغورزوي او د خپلې مينې ناپوره ارمانونه او ناکامه حسرتونه هغه د مرګ ناترسه لاسو ته اوسپاري[۱۶]."

د دې ناول هېرو سرفراز کۀ حسن پرست او شاعر دے نو ميرو هم د مينې سمندر دے. او د صفيې د مصورۍ فن هم په کښې د فنونِ لطيفه رنګونه شيندلي دي. چې د ناول پلاټ ئي ډېر زرخېزه او رنګينه کړے دے.

" د خود کشۍ په پلاټ کښې دوه ښائسته قيصې خوا په خوا داسې ګنډلے شوي دي چې د يوې بلې سره ژور تړون وي او د دغې دواړو د تړون سبب د سرفراز کردار وي[۱۷]."

موصوف ناول نګار د دې ناول په اخر کښې د کمالِ مهارت نه کار اخستے دے او د ناول ټوله قيصه ئې د صفيې د مصورۍ په برش تصوير ته سپارلې ده. چې د تصوير دغه منظر د سرفراز په وېنا د ميرو په تصوير تکميل ته رسېدلے دے. سرفراز صفيې ته وائي .....

" تصوير نور ډېر ښۀ راغلے دے خو په تصوير کښې د غرونو خوا کښې يو ښکلے کوچۍ جينۍ جوړه کړه چې ګېډے ئې په سر او د ريدي د ګلونو غنچه په لاس په ماښام کښې خپلې کېږدۍ طرف ته راروانه وي ... ...د صفيې په مخ کښې د خوشحالۍ رڼا اوځلېدله او زر ئې ورته اووئيل، ايله اوس به تصوير سمون اوخوري، تر اوسه ماته څۀ تش تش معلومېدو[۱۸]."

**مېخانه:** د رسا صېب پينځم او اخري ناول "مېخانه" دے. دا ناول د رسا صېب په ټولو ناولونو کښې په هر لحاظ سره وزني دے. دا ناول په**۴۰۷** مخونو او څلېريشتو بابونو مشتمل په **۱۹۸۵**ء کښې چاپ شوے دے.

" په فني حواله دا ناول ښۀ دے. پلاټ ئې چست،منظر کشي ښکلې، کردارونه ژوندي او سسپنس عالي دے. په مجموعي توګه د ناول په فن د رسا صېب د رسا فکر نشاندهي کوي[۱۹]."

دا ناول هم روماني دے چې ټوله قيصه د ناول د هېرو ګلاب او هېروئن مېخانې نه چاپېره چورلي چې د دغې مېخانې په وجه د ناول ټول پلاټ د "مېخانې" د فضا په شان په روماني فضا کښې په ټال زنګيږي. د ناول د ماحول په "يادګېرنه" کښې رسا صېب ليکي .......

" دا ناول د کابل د بادشاهي نظام په زمانه کښې ليکلے شوے دے او د هغې زمانې د کابل د ښار د معاشرتي او سياسي ژوند نقشه پېش کوي[20]."

په دې ناول کښې رسا صېب اکثر اجتهادي قدمونه پورته کړې دي، د شعرونو استعمال او د مرکزي کردارونو پېژندګلو يې ډېره زر او ناڅاپي کړې ده.

" څۀ ګورم چې ناڅاپه د يو طرف نه په يورپين لباس کښې ملبوسه ښکلې مېک اپ کړې، يوه ځوانه ښکلې جينۍ راغله ... ... ناساپه ئې ما طرف ته په ډېر جرات سره مخ راواړولو او ما ته ئې اووئيل "زه تا سره وادۀ کوم" زما د پښو نه زمکه اوتختېده ... ... ورنه مې پوښتنه وکړه "کله"؟ جينۍ په سنجيدګۍ سره جواب راکړو "يو کال پس" ... ... زما انتظار کوه، زه ټوقې نه کوم، "ماه چې څۀ اووئيل دا د کاڼي کرښه ده" ... ... زۀ مېخانه يم خو پېغله مېخانه، مېرمن مېخانه نۀ يم يعني وادۀ مې لا نۀ دے شوے، ما ورته زر اووئيل زۀ هم په کور کښې لا مېرمن نۀ لرم[21]."

دغه شان ناول په مخکښې بوخې چې اصل مقصد ئې د کابل تبديلي او د يورپي تهذيب يلغار او د هغې خامۍ په ګوته کول دي. د رسا صېب د نورو ناولو په شان په دې کښې هم هېروئن ارماني د دنيا نه لاړه شي.

**نتيجه:** د رسا صېب د ناولونو د واقعياتو، قيصو او کردارونو مطلب چرته نېغه په نېغه او چرته په ترخ د معاشرې په خرابو ګوزارونه کوي او خلقو ته دا پېغام ورکول غواړي چې د خرابو منطقي انجام د ناکامېو سره ضرور مخ کېږي،ژوند ته د حقيقت په نظر کتل پکار دي او د خپلې معاشرې او قام د کلتور ي دائرو نه پښه نۀ دي اړول پکار او چا چې هم د څادر نۀ پښې ابستلے شوې دي نو د ناکامۍ او تباهۍ تاترين ته غورځېدلي دي.

## حوالې


۱. مصطفي کمال"د سید رسول رسا ناول نګاري،تنقیدي او تجزیاتي مطالعه" د ایم فل مقاله:شعبه پاکستاني زبانین علامه اقبال اوپن یونیورسټي اسلام آباد، ۲۰۰۶ مخ ۱۶
۲. حنیف خلیل، "پښتو ناول، تحقیقي او تنقیدي جائزه"، باګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، جنوري ۲۰۰۰ء، مخ ۳۳
۳. اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، "پښتو ادب کښې کردار نګاري"، پښتو اکېډیمي پېښور، ۱۹۹۳ء، مخ ۳۰٦
۴. حنیف خلیل، "پښتو ناول، تحقیقي او تنقیدي جائزه"، مخ ۵۳
۵. رسا، میا سېد رسول، "مفرور"، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، اپریل ۱۹٦۳ء
٦. اعظم،محمد اعظم،ډاکټر،"پښتو ادب کښې کردارنګاري"،پښتو اکېډیمي پېښور۱۹۹۳ء، مخ ۳۳۳
۷. حنیف خلیل، "پښتو ناول، تحقیقي او تنقیدي جائزه"، مخ ۵۳
۸. بي بي مریم،"دپښتو ناول یوه تجزیاتي مطالعه"،د پي ایچ ډي تحقیقي مقاله، کال ۲۰۰۳مخ ۲۳۱
۹. رسا، میا سېد رسول، "شمې"، مخ ۲
۱۰. حنیف خلیل، "پښتو ناول، تحقیقي او تنقیدي جائزه"، مخ ۳۸۰
۱۱. ایضاً، مخ ۳۸۰
۱۲. ایضاً، مخ ۵۹
۱۳. اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، "پښتو ادب کښې کردار نګاري"، مخ ۳٦۵
۱۴. ایضاً، مخ ۳٦۲
۱۵. رسا، میا سېد رسول، "خودکشي"، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، ستمبر ۱۹٤۲ء، مخ ۲۵٦
۱٦. حنیف خلیل، "پښتو ناول، تحقیقي او تنقیدي جائزه"، مخ ٦۱
۱۷. رسا، میا سېد رسول، "مېخانه"، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، ۱۹٤۵ء، مخ ۳
۱۸. ایضاً، مخ ۱۲-۱۱-۱۰
۱۹. بي بي مریم، " دپښتو ناول یوه تجزیاتي مطالعه"، مخ ۲۵۹
۲۰. ایضاً، مخ ۲٦۰
۲۱. رسا، میا سېد رسول، "مېخانه"،